
د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## څلورم ټولګی





کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

Ketabton.com

**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د رسامۍ هنر

## څلورم ټولګی

**د چاپ کال : ۱۳۹۰ هـ . ش.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تالیف، ښېړنې او تدقیق کمېټې

**لیکوالان:**

۱. محمد ظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر.
۲. سید انور مېچنخېل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۳.

**تایید او مطالعه:**

**ملي شورا:**

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

**د علومو اکاډمي:**

سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

**د ښېړنې او تدقیق کمېټې:**

**د کابل پوهنتون:**

پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې استاد.

**د پوهنې وزارت:**

۱. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت مشاور.
۲. نفیسه پوپلزۍ د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړې.
۳. محمد غالب الله یار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
۴. **اډیټور:** د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارګر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو د دیپارتمنت علمي غړی.
۵. محمد شفیق برنا یار د هنرونو د مسلکي لیسي ښوونکی.
۶. بلقیس احمدي د هنرونو د مسلکي لیسي ښوونکی.

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي او دیني برخو د ښېړنې او کره کتنې کمیټې:**

– ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
– دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار .
– دمؤلف مرستیال محمد سهراب دایدار.


**د ښېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:**

– دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
– دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
– د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

**کمپوز او ډیزاین:** میر محمد سهیل انصاري، حمید الله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library







## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي　　پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

**ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمېر | | مخ |
|---|---|---|
| ۱- لومړی لوست: | ..................... | ۲-۱ |
| ۲- دوهم لوست: | ..................... | ۴-۳ |
| ۳- دریم لوست: | ..................... | ٦-۵ |
| ۴- څلورم لوست: | ..................... | ۸-۷ |
| ۵- پنځم لوست: | ..................... | ۱۰-۹ |
| ٦- شپږم لوست: | ..................... | ۱۲-۱۱ |
| ۷- اووم لوست: | ..................... | ۱۴-۱۳ |
| ۸- اتم لوست: | ..................... | ۱٦-۱۵ |
| ۹- نهم لوست: | ..................... | ۱۸-۱۷ |
| ۱۰- لسم لوست: | ..................... | ۲۰-۱۹ |
| ۱۱- یوولسم لوست: | ..................... | ۲۲-۲۱ |
| ۱۲- دوولسم لوست: | ..................... | ۲۴-۲۳ |
| ۱۳- دیارلسم لوست: | ..................... | ۲٦-۲۵ |
| ۱۴- څوارلسم لوست: | ..................... | ۲۸-۲۷ |
| ۱۵- پنځلسم لوست: | ..................... | ۳۰-۲۹ |
| ۱٦- شپاړسم لوست: | ..................... | ۳۲-۳۱ |
| ۱۷- اوو لسم لوست: | ..................... | ۳۴-۳۳ |

۱۸– اتلسم لوست: ............ ۳۵–۳۶
۱۹– نولسم لوست: ............ ۳۷–۳۸
۲۰– شلم لوست: ............ ۳۹–۴۰
۲۱– یو ویشتم لوست: ............ ۴۱–۴۲
۲۲– دوه ویشتم لوست: ............ ۴۳–۴۴
۲۳– درویشتم لوست: ............ ۴۵–۴۶
۲۴– څلېرویشتم لوست: ............ ۴۷–۴۸
۲۵– پنځه ویشتم لوست: ............ ۴۹–۵۰
۲۶– شپږ ویشتم لوست: ............ ۵۱–۵۲
۲۷– اوه ویشتم لوست: ............ ۵۳–۵۴
۲۸– اته ویشتم لوست: ............ ۵۵–۵۶
۲۹– نه ویشتم لوست: ............ ۵۷
۳۰– دېرشم لوست: ............ ۵۸




(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی لوست

## خربوزه

موخه: دپنسل په واسطه دخربوزې دباندنیو کرښو له انځور ولو او هغې ته له پر داز ورکولو سره دزده کوونکو اشنا کېدل.

**پوښتنې:**

- خربوزې کوم رنګونه لري؟
- دکال په کوم فصل کې خربوزې پیدا کېږي؟



**ګران ښوونکی دې:**

دیوه هندسي چوکاټ په دننه کې د خربوزې دانځورولو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي او له هندسي وسایلو نه په ګټه اخیستنه دې د ټولګي په توره دړه دخر بوزې شکل انځوراو سکیچ کړي. زده کوونکي دې دهغه په رسمولو وګماري.


**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې لومړی په محوري خطونو دخربوزې شکل اندازه کړي، وروسته دې دهغې باندیني خطونه انځور او پرداز ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د پورتني شکل سمه ليدنه.
- د باندنيو خطونو سم درک.

**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې نيمه شوې خربوزه له خپل فکرڅخه انځور کړي.

# دوهم لوست

## خربوزه

موخه: د خربوزې له انځور ولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو اشناکول.

**پوښتنې:**



- د خربوزې دجوړښت او رنګ په اړه څه ویلی شئ؟
- له کومو ولایتونو څخه خربوزې کابل ته راوړل کیږي؟



**ګران ښوونکی دې:**

د خربوزې د جوړښت او رنګونو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي. دانځور ولو او د رنګه کولو په وخت کې دې ورته مسلکي لارښوونه وکړي.

**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې پورتنی شکل انځور او دښوونکي په لارښونه رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- په رنګونو پوهیدنه او په مناسبو ځایونو کې ورڅخه ګټه اخیستنه.
- د کاغذ تناسب په پام کې نیول شوی دی.

**کورنۍ دنده:** یوه خربوزه انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم لوست

## د فیل ککری

موخه: د فیل دککری د باندنیو خطونو له انځور ولو سره د زده کوونکو اشنا کول.

پوښتنې:

- په انځورولو کې دفیل ککری ښه موډل دی، که وي ولې؟
- دپیل د غټوالی او زور په هکله څه ویلی شئ؟



### ښاغلی ښوونکی دې:

دهنري فورم په نظر کې نیولو سره د پیل ککری د ټولګي په توره دړه سکیچ کړي او بیادې زده کوونکي په ډلو وویشي. هره ډله دې د توري دړې او د کتاب انځور په پام کې ونیسي. کار دې پیل کړي. دهرې ډلې په کار باندې دې وغړیرې چې د دوی د تشویق سبب شي.

### فعالیت:

د زده کوونکو هره ډله دې د فیل د ککری په اړه فکر وکړي او بیا دې د توري دړې او دکتاب د انځورونو نه په ګټه اخیستنه دفیل ککری سکیچ کړي او وروسته دې هره ډله خپل کار نوروته ور وښیي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- دفیل دککرۍ باندني خطونه سم کارول شوي دي؟
- دهنری اثر پاکوالی او نظافت په پام کې نیول شوی دی؟

**کورنۍ دنده:** له کورنیو حیواناتو څخه یو انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم لوست

## د فیل ککرۍ

موخه: د فیل دککرۍ د باندنیو کرښو له انځورولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې:**

- فیلان په کومو ځایونو کې ژوند کوي؟
- زموږ په ګران هیواد کې پیلان شته؟



**ګران ښوونکی دې:**


دسوالونو سم ځوابونه زده کوونکو ته ووايي او دانځور ولو په لارو چارو دې يې وپوهوي. دانځورولو او د رنګه کولو په وخت کې دې له دوی سره لازمه مرسته وکړي !

**فعالیت:**

دکتاب شکل ته په ځیر وګورئ او په سکیچ کولو يې پیل وکړئ او د ښوونکي په مرسته يې د رنګه کولو هڅه وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- له رنګه کولو سره مینه
- دسوالو سم ځوابونه



**کورنۍ دنده:** یو فیل انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست

## توربانجن

**موخه:** دتوربانجن له سکیچ او پرداز ورکولو سره دزده کوونکو اشنا کیدل.

**پوښتنې:**



- تور بانجن ونه لري که بوټي؟
- دتوربانجن پوټکی او خواړه کوم رنګونه لري؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**

زده کوونکي په ډلو وویشي او هره ډله دې په چوکاټ کې دننه په سکیچ او رنګه کولو وغړیږي. خپل کارونه دې نور و ډلوته وښیي. دوی ته دې سپارښتنه وکړي چې له رنګونو څخه په خپلو ځایونو کې کار واخلي.




**فعالیت:**

زده کوونکي دې په خپل مینځ کې سره وغږیږي او بیا دې شکل انځور کړي. وروسته دې هره ډله خپل انځورونه نورو ډلو ته ښکاره کړي چې ددوی د هڅونې او تشویق سبب وګرځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- دچاپیریال له ساده موادو څخه کار اخیستلی شي؟
- په کار کې نوښت شتون درلود؟

**کورنۍ دنده:** د پورته شکل په شان څو واره تمرین وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## لاسي کار

**موخه:** د توربانجڼ دلاسي کار سره دزده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې:**

- له کومو شیانو څخه توربانجڼ په لاسونو جوړ ولی شئ؟
- په کومو رنګونو تور بانجڼ رنګیږي؟



**ګران ښوونکی دې:**

دلاسي کار (ټکنالوژی) په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي او هم دې دجوړولو په وخت کې له دوی سره مرسته وکړي. زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي چې د کاغذ او داسې نورو څخه د پورتني لاسي کار په جوړولو کې استفاده وکړي. د سیمه ییزو توکو لکه ختې، کاغذ، اومقوا څخه دې استفاده وکړي.


**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې له ختې او یا کاغذ څخه توربانجڼ جوړ او هغه دې رنګه کړي او دښوونکي د لارښوونو څخه دې ګټه واخلي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د لاسي کار په جوړولو کې نوښتګري ( ابتکار ).
- د چاپيريال له موادو څخه سمه ګټه اخيستنه.

**کورنۍ دنده:** د خپلې خوښې يوه سبزي له موا دو څخه په لاس جوړه کړئ!


# اووم لوست

## مڼه او پاڼه

**موخه:** دمڼې او دهغې دپاڼې له انځورولو سره دزده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

- مڼه دڅه شي نه لاس ته راځي؟
- دمڼې خوړل څه ګټه لري؟



**ښاغلی ښوونکی:**


مڼه دکتاب له مخې دټولګي په توره دړه دهغې له اساساتو سره انځور کړئ او دسکيچ، سيوري او روښنايي په هکله يې دوی ته معلومات ورکړئ او دلاندې فعاليت په سرته رسولو کې دوی ته لارښوونه وکړئ!


**فعاليت:**

دمڼې دانځورولو په وخت کې دټولګي دتورې دړې انځورته په ځير وګورئ او دکتاب اوتورې دړې نه په ګټې اخيستنه کار پيل کړئ! د تکميل نه وروسته هغې ته پرداز ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





**ارزونه:**

- د چوکاټ په دننه کې دخطونو د سکیچ په پام کې نیول.
- په پورتني شکل کې دسیوري اوروښنايي او پرداز ښودل.

**کورنۍ دنده:** پورتنی شکل یو وار بیا تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست


## ونه او پاڼه

**موخه**: دونې او دهغې دپاڼې له انځور ولو سره د زده کوونکو بلدیدل.

**پوښتنې**:



- دمنې ونه د کال په کوم فصل کې ، پاڼې اوګلان کوي؟
- د هیواد په کومو سیمو کې منې ښه او په زړه پورې وده کوي؟





**ښاغلی ښوونکی**:


زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. دونې او دهغې دپاڼې، سکیچ او باندني خطونو په هکله دې خبرې وکړي اوپه انځورو لودې لګیا شي د انځورولو وروسته دهرې ډلې رسمونه د میز په سر یا په دیوال وځړوئ چې دوې دځپلو انځورونو ننداره وکړي. دا کار ددوی دهڅونې او تشویق سبب ګرځي.


**فعالیتونه**:

هره ډله دې له مشورې وروسته په انځورولو پیل وکړي. لومړی دې انځور په تت (خفیف) ډول انځور کړي او بیا دې په ډیر زغم هغې ته دسیوري او روښنایې په انځورولو لګیا شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**ارزونه:**

- د زده کونکو نوښتګر حس.
- له تتو او روښانه خطونو څخه ګټه اخیستنه.

**کورنۍ دنده:** د منې ونه او د هغې پاڼه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست

## ونه او مڼه

موخه: د مڼې د رنګه کولو او دهغې د وني له انځور ولو سره د زده کوونکو اشنا کېدل.

### پوښتنې:



- دمڼې او د هغې د پاڼو رنګونه څه توپیر لري؟
- په مڼه او ونه کې یې کوم رنګونه ترسترګو کیږي؟





### ګرانو ښوونکو!

مڼه او دهغې ونه په زده کوونکو انځور کړئ او د رنګه کولو په وخت کې له دوی سره لازمه مرسته وکړئ انځورو نه یې په ټولګي کې دزده کوونکو دننداري لپاره وځړوئ! کارونه یې وارزوئ او د رنګه کولو په وخت کې ورته لازمه لار ښوونه وکړئ!

### فعالیتونه:

زده کوونکي دې د کتاب رسم ته په ځیر سره وګوري او هغه دې په تتو( خفیفو ) خطونو سکیچ کړي. بیا دې په رنګه کولو لاس پورې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**ارزونه:**

- د انځورنظافت او پاکوالی په پام کې نیول.
- د پورتني شکل په شان رنګ شوي دي؟

**کورنۍ دنده:** رنګونه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


## لسم لوست

# رومي بانجان

**موخه**: د رومي بانجان د باندنيو خطونو دانځور ولو، چوکاټ بندی او رنګه کولو سره د زده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې**:

- د رنګولو په وخت کې څه احساس درته پیدا کېږي؟
- د رومي بانجان خوړل څه ګټه لري؟



**ښاغلو ښوونکو!**


زده کوونکي وپوهوئ چې د رنګه کولو په وخت کې له پوره زغم څخه کار واخلي او خپل رسمونه په ډېر غور سره انځور او رنګه کړي. که چیرې په یوه درسي ساعت کې یې رسمونه بشپړ نه شول، کولای شي چې هغه په کورکې د کورنۍ دندې په وخت کې بشپړ کړي. زده کوونکو ته درنګونو د کارولو لارې چارې ورزده کړئ او د رنګونو په خپل ځای کارونه دوی ته وښیاست.

**فعالیتونه**:

زده کونکي دې رومي بانجان په غور او دقت سره سکیچ کړي او مناسب رنګونه دې په خپلو ځایونو کې وکاروي. که چیرې د زده کوونکو انځورونه بشپړ نه شول هغه دې په کور کې رنګ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د کاغذ تناسب په پام کې نیول شوی دی؟
- رنګونه په مناسبو ځایونو کې کار ول شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوولسم لوست

## د الوتونکي ککرۍ

**موخه**: د الوتونکو له انځورولو او پرداز ورکولو سره بلدېدل.

**پوښتني**:



- لاندې انځور په کومو رنګونو رنګوئ؟
- الوتونکي چیرې اوسیږي؟




**ګران ښوونکی دې**:

زده کوونکي په ډلو وویشي او هره ډله دې د الوتونکو په هکله فکر وکړي. وروسته دې پورتنی انځور وکاږي. دهرې ډلې کار دې نورو ډلو ته ور وښیي چې ددوی استعدادونه را وپاریږي.



**فعالیتونه**:

د زده کوونکو هره ډله دې له پورتنیو شکلونو څخه یو پخپله خوښه انځور کړي او بیا دې د پرداز په واسطه سیوری اوروښنایي پکې وښیي او نورو ډلو ته دې ښکاره کړي.



**ارزونه:**

- په شکل کې د پرداز په مرسته سیورى او روښنايي په پام کې نیول شوي دي؟

**کورنۍ دنده:** د یوه الوتونکي ککره انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم لوست


## الوتونکی

موخه: د سکیچ کولواو دپردازونو په مرسته د سیوري اوروښنایي له انځور ولو سره د زده کوونکو اشناکول.

پوښتنې:



- کورني او دشتي الوتونکي څه توپير سره لري؟
- هغه الوتونکي چې زموږ په هیواد کې پیدا کیږي نومونه یې واخلئ؟




### ښاغلی ښوونکی دې:

دپوښتنو سم ځوابونه زده کوونکو ته ووايي.
دوی ته دې سپارښتنه وکړي چې دسکیچ کولو،پرداز، ښکلا، سیورې اوروښنایي د انځورولو سمې لارې چارې زده کړي او دوی د ښېلو ښېلو برخو د اندازه کولو سره اشنا کړي.

### فعالیتونه:

زده کوونکي دې د تناسب اړخونه په پام کې ونیسي او دښوونکي په لارښوونه دې د پورتني شکل په انځورولواو پرداز ورکولو پیل وکړي.



**ارزونه:**

- زده کوونکو د مختلفو شکلونو له انځورولو څخه څومره اخیستنه کړیده؟
- تناسب په پام کې نیول شوی دی؟

**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یو رسم وکاږئ او ټولګي ته يې راوړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیارلسم لوست

## الوتونکی

**موخه:** دلاندیني شکل د رنګونو او د هغه د باندنیو کرښو له انځور ولوسره اشنا کیدل.

**پوښتنې:**



- کوم رنګ مو خوښیږي؟
- په لاندې انځور کې کوم رنګونه وینئ؟



**ګرانو ښوونکو!**

زده کوونکي په لومړي ګام کې پورتني شکل ته متوجه کړئ چې دوی د شکلونو په تناسب او رنګونو باندې وپوهیږي او هغه په عمل کې پلي کړي.

**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې پورتنی شکل په ځیر وګوري او د هغه دتناسب په نظر کې نیولو سره دې په سکیچ کولو پیل وکړي او بیا دې هغه رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- په ځیرکتیا سره سکیچ ترسره شوی دی؟
- رنګونه د شکل په مناسبو ځایونو کې کارول شوي دي؟

**کورنی دنده:** اسان سکیچونه تمرین کړئ او د ښوونکي له نظره يې تیر کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوارلسم لوست

## لاسي کار

**موخه:** د لاسي کار دجوړ ولو لپاره د اسکليټ بندۍ دوړ تيا پيدا کول.

**پوښتنې:**

- هغه مواد چې لاسي شی تري جوړيږي نومونه يي واخلئ؟
- د لاسي کار جوړول څه ګټه لري؟



**ګران ښوونکی دې:**

د لاسي شيانو په جوړ ولو کې زده کوونکو ته پوښتنې پيدا کيږي نو دوی ته دې سم ځوابونه ووايي او دوی وهڅوي چې دچاپيريال له ساده موادو څخه ګټه واخلي.
داسکليټ بندۍ په هکله دوی ته لازمه لارښوونه وکړي او بيا دې دوي دخپلو لاسي کارونو رنګه کولو ته وهڅوي!

**فعاليت:**

زده کوونکي دې تناسب په نظر کې ونيسي او الوتونکي دې اسکليټ بندي کړي.
وروسته دې يې جوړ او رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د شکل تناسب په نظر کې نیول شوی دی؟
- په شکل کې دچاپیریال له ساده موادو څخه ګټه اخیستل شوې ده؟

**کورنۍ دنده:** له هغو موادو څخه چې ستاسې په چاپیریال کې پیدا کیږي یو الوتونکی مرغه جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست


## د څاروي ککرۍ

**موخه:** دڅارویو د ککرۍ د انځور ولو او له تناسبونو سره د زده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې:**



- د څارویو په هکله څه معلومات لرئ؟
- د کورنیو څارویو نومونه واخلئ؟



**ښاغلو ښوونکو!**


زده کوونکو ته د پوښتنو سم ځوابونه ووایئ او د څارویو د ککرۍ، دسمو انځور ولو په هکله دوی ته پوره معلومات ورکړئ د هر یو انځور د کتابچې په یوه ګوښه کې اصلاح کړئ!

**فعالیت:**

زده کوونکي دې له خپلې خوښې سره سم د پنسل په مرسته پورتنی شکل داسې انځور کړي چې تناسبو نه په کې په پام کې نیول شوي وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزونه:

- د شکل ټاکل او د هغه د انځورولو لارې چارې.
- تناسب په پام کې نیول شوی دی.

کورنۍ دنده: په خپله خوښه یو حیوان انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپاړسم لوست


## د آس د ککرۍ حرکتونه

**موخه:** د حرکت په حال کې د آس دککرۍ له سکیچ کولو سره د زده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې:**



- آس له کوم ډول حیواناتو څخه دی اوکوم رنګونه په کې لیدل کیږي؟
- آس د خلکو ولې خوښ دی؟




**ګرانه ښوونکیه:**

زده کوونکي په ډلو وویشه په هره ډله د آس بېل بېل حرکتونه انځور کړه.
تاسې د سیوري او روښنایۍ په انځورولو کې ورسره لاژمه مرسته وکړئ!

**فعالیت:**

د آس له حرکتونو څخه یو حرکت انځور او هغه ته پرداز ورکړئ!



**ارزونه:**

- سکيچ او حرکتونه په سمه توګه انځور شوي دي؟
- د پردازونو په مرسته سيوری او روښنايي په پام کې نيول شوي دي؟



**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه د آس يو حرکت انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوو لسم لوست

## د آس د ککرۍ حرکتونه

**موخه**: له هغو رنګونو سره اشنا کېدل چې په آس کې ترسترګو کېږي.

**پوښتنې**:



- د آس په بدن کې کوم کوم رنګونه ښکاري؟
- کوم رنګ آس مو خوښیږي؟



**ښاغلي ښوونکی دې**:

د آس شکل په زده کوونکو باندې په تتو (خفیفو) خطونو سکیچ کړي. دسکیچ کولو او رنګه کولو په وخت کې دې دوی ته لازمه لارښوونه وکړي.
دسوالونو سم ځوابونه دې دوی ته ووایي.

**فعالیت**:

زده کوونکي دې لومړی دآس شکل په تتو خطونو سکیچ کړي او بیا دې په رنګه کولو پیل وکړي. هڅه دې وشي چې دپورتني شکل رنګونه پکې وکارول شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- رنګ ورکول له اصل سره سمون خوري؟
- د رنګونو په ګډولو کې يې څومره مهارت ښودلی دی؟



**کورنۍ دنده:** یو ځل بیا په کور کې آس انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست


# انګور

**موخه:** دانګور دوړي له انځور ولو او پرداز ورکولو سره دزده کوونکواشنا کول.

**پوښتنې:**



- انګورد هېواد په کومو ځايونوکې پيدا کيږي؟
- څو ډوله انګور پيژنئ؟



## ګران ښوونکی دې:

د انګورو دوړي د سکيچ او پرداز په اړه زده کوونکو ته څرګندونې وکړي. دسيوري او روښنايۍ په انځورولو کې دي اړونده مرسته ور سره وکړي.




## فعاليتونه:

لومړی پرپورتني انځور باندني خطونه انځور کړئ او بيا دخپل تصويرسيوري او روښنايي ته په غورېدلی بڼه پرداز ورکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- له انځور شوي شکل سره مینه.
- د ښوونکي لارښوونه په پام کې نیول شوې ده.

**کورنۍ دنده:** د انګورو وړې تمرین او پرداز ورکړئ!

# نولسم لوست

## انګور

**موخه**: د انګورو دوړي له رنګونو سره دزده کوونکو اشنا کول.

**پوښتنې**:

- د رنګ له پلوه موخو ډوله انګور ليدلي دي؟
- د انګورو بېلونه دګران هيواد په کومو ولايتونو کې شته؟



**ګرانو ښوونکو!**

د انګورو د رنګونو په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړئ!

د دوی کارونه دکتابچې په يوه ځنډه کې سم کړئ!

دپورتنيو پوښتنو ځوابونه په سمه توګه ورته وواياست او زياروباسئ چې د دوی ورتيا زياته شي.

**فعاليتونه**:

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي د انګورو دوړي او دهغې درنګونو په اړه دې خبرې وکړي او وروسته دې په انځورولو بوخت شي. درسمولو او رنګه کولو وروسته دې خپل رسمونه دميز په سر او يا د ټولګي په ديوال وځړوي ترڅو دوی خپل او دنورو رسمونه وګوري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- زده کوونکي درنگونو توپیر کولی شي؟
- رنگونه په مناسبو ځایونو کې کارول شوي دي؟

**کورنۍ دنده:** د انګورو وړی رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلم لوست

## پتنګان

موخه: د پتنګانو له انځور ولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو اشنا کول.

پوښتنې:



- پتنګان کوم کوم رنګونه لري؟
- کوم رنګ پتنګان مو خوښیږي؟



**ښاغلی ښوونکی دې:**

لومړی د پتنګ په هکله زده کوونکو ته څرګندونې وکړي. په سکیچ او رنګه کولو کې دې لازمه مرسته ورسره وکړي. زده کوونکو ته دې دنده وسپاري چې له ټولګي څخه دباندې پتنګانو ته په ډېره ځیرکتیا سره وګوري.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې په خپله خوښه له پورتنیو شکلونو څخه یو سکیچ جوړ او د ښوونکي په لارښوونه دې یې رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- ترکومه بریده پورې رنګونه په مناسبو ځایونو کې کار ول شوي دي.



**کورنۍ دنده:** یو پتنګ له ختو او یا کاغذ څخه جوړ کړئ!

# یو ویشتم لوست


## ابتکاري شکلونه

**موخه:** د رنګ، ګوتو او خطونو په واسطه د ابتکاري انځورونو زده کړه.

**پوښتنې:**




- نوښتګر شکلونه ولې کاروئ؟
- له لاندې شکلو څخه څه ډول خوند اخلئ؟



**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکو ته ووايي چې د کتاب په شکلونو سربیره هغه شکلونه چې له ټولګي څخه د باندې تر سترګو کیږي له هغو څخه هم ګټه واخلي. تر څو د دوی هنري تفکر وهڅول شي.




**فعالیت:**

زده کوونکي دې پورتني شکلونه انځور کړي. کولی شي چې له ټولګي څخه د باندې شکلونه هم انځور کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- په ابتکاري انځورونو کې له خطونو څخه مناسبه ګټه اخيستل شوې ده؟

**کورنۍ دنده:** يو ابتکاري شکل په خپله خوښه انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوه ویشتم لوست

# ډیزاین

موخه: د ډیزاینونو په جوړولو کې دچاپیریال له ساده موادو څخه ګټه اخیستنه او درنګ له زده کړې سره د زده کوونکو اشنا کیدل.

پوښتنې:

- له خپل چاپیریال څخه د ډیزاینونو د جوړولو لپاره څه ډول مواد ټاکئ؟
- تر اوسه مو اسلامي ډیزاینونه لیدلي وو؟



ګرانه ښوونکیه:


زده کوونکو ته سپارښتنه وکړه چې دچاپیریال له ساده موادو څخه ډیزاینونه جوړ کړي او په مناسبو ځایونو کې یې وکاروي. دوی کولی شي چې دونو د پاڼو، پنډ کاغذ، دیوالونو، د جوماتونو له منارو څخه چې د اسلامي دورو ډیزاینونه لري ګټه واخلي!

فعالیت:

زده کوونکي دې سربیره په ذکر شوو ډیزاینونو له ټولګي څخه د باندې کله چې کوم ډیزاین ووینی کولی شي چې په خپله خوښه یې انځور کړي. او دخپلو ټولګیوالو ننداري ته یې وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- له طبیعي موادو څخه څومره ګټه اخېستل شوي ده؟
- مواد په ښه ډول ترتیب او تنظیم شوي دي؟

**کورنۍ دنده:** یو ډیزاین جوړ کړئ او د ښوونکي له نظره یې تیر کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درویشتم لوست

## ډېزاین

**موخه**: له طبیعي موادو څخه د ابتکاري ډیزاینونو له جوړولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې**:



- له کومو طبیعي موادو څخه ډیزاینونه جوړېږي؟
- د څه شي لپاره فکر کوئ او څه شی جوړول غواړئ؟



**ګرانه ښوونکيه**:

زده کوونکي وهڅوئ چې د نوښتګرو ډیزاینونو لپاره ډېر فکر وکړي ترڅو دوی هغه شی یا شکل چې په فکرکې یې ګرځي جوړ کړي. تاسې دوی ته لاژمه لارښوونه وکړئ! د دوی انځورونه او یا هغه شی یې چې جوړ کړی دی دزده کوونکو دننداري لپاره په دیوال وځړوئ چې د دوی ذهني استعداد وده او پراختیا ومومي.



**فعالیت**:

کله چې زده کوونکي یو ډیزاین جوړ وی ښایي لومړی ښه فکر وکړي او بیا هغه جوړ کړي. تاسې کولی شئ چې ببل ببل ډیزاینونه انځور کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د یوه ټاکلي شکل د جوړولو لپاره دزده کوونکو د فکر څرنګوالی؟
- له طبیعی موادو څخه سمه ګټه اخیستنه؟

**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یو شی جوړ کړئ!


# څلورویشتم لوست

## ډېزاین

موخه: په ډیزاینونوکې درنګ له انتخاب او استعمال سره اشناکیدل.

**پوښتنې:**

- کوم رنګونه موخوښیږي نومونه يې واخلئ؟
- د ډیزاینونو له رنګه کولو څخه څه احساس درته پیداکیږي؟



**ښاغلي ښوونکي دې:**


زیار وباسي چې زده کوونکي په سمه توګه سکیچ کولو او د ډیزاینونو تنظیم کولو ته وهڅوي او د دوی رسمونه اصلاح کړي.

**فعالیت:**

پورتنی شکل سکیچ او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ دنده: ډول ډول ډیزاینونه انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست

## خیالي انځور

موخه: دخیالي رسمونو او دهغو په اړه له فکر کولو سره اشنا کیدل.

**پوښتنې:**



- د انځورولو له پاره کوم شکلونه په خیال کې لرئ؟
- د خیالي شکلونو انځورول څه ګټه لري؟



**ښاغلی ښوونکی دې!**

د خیالي انځورونو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
دوي دې فکر کولو او د خیالی انځورونو رسمولو ته وهڅوي او د دوی رسمونه دې اصلاح کړئ!


**فعالیت:**

د ښوونکي لارښوونې په پام کې ونیسئ او له خپل فکر څخه یو شکل ترسیم کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د فکر کولو مهارت؟
- د عملي کولو مهارت؟

**کورنۍ دنده:** نوښتګر رسمونه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست

## ابتکاري شکل

**موخه**: د ابتکاري شکلونو له طرحه کولو سره اشنا کیدل.

**پوښتنې:**

- کله مو ابتکاري شکلونه جوړ کړي دي؟
- کوم شیان استعدادونو ته وده ورکوي؟





**ښاغلیه ښوونکیه:**

زده کوونکو ته ور وښیاست چې له طبیعي موادو څخه کوم شیان جوړیدلی شي. تاسو د شکلونو دجوړیدو په وخت کې له دوی سره لازمه مرسته وکړئ او لاندېنی فعالیت په دوی باندې سرته ورسوئ.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې سربیره په پورتني شکل یو بل خیالي شکل له خپل فکر څخه جوړ کړي او خپل کاردې نورو ټولګیوالو ته ور وښیي چې په کارکې د دوی د پرمختګ سبب شي.





**ارزونه:**

- له ابتکاري رسمونو څخه مناسبه ګټه اخیستنه؟
- د ابتکاري شکلونو د جوړیدلو توان؟



**کورنۍ دنده:** ابتکاري شکلونه تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه ویشتم لوست

## ابتکاري شکلونه

**موخه**: د چاپیریال له موادو څخه د ابتکاري شکلونو زده کول.

**پوښتنې**:

- هغه مواد چې ابتکاري شکلونه ترې جوړیدلی شي کوم دي؟
- د چاپیریال له موادو څخه کوم شیان جوړ ولی شئ؟



**ګران ښوونکی دې**:

د ابتکاري شکلونو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي او دوی ته دې سپارښتنه وکړي چې د پورتني شکل په پام کې نیولو سره د چاپیریال له موادو څخه لکه دیوه خود کار قلم دنل په واسطه درنګونو پو کول، په رنګ ککړ شوی تار، پنډ کاغذ، بیاتي کولو او دونو دپاڼو او شاخو څخه یو ابتکاري او هنري اثر جوړ ولی شي.

**فعالیت**:

زده کوونکي دې پورتنی شکل جوړکړي او هم دې ددې په څنګ کې یو بل ابتکاری شکل جوړ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- د زده کوونکو د ابتکار توان.
- د موادو د پیدا کیدو مهارت.

**کورنۍ دنده:** یو ابتکاري رسم انځور کړئ!





(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته ویشتم لوست


## کاغذي ګلونه

**موخه:** دکاغذي شکلونو له جوړولو سره اشنا کیدل.

**پوښتنې:**

- له سپینو او رنګه کاغذونو څخه کوم شیان جوړولی شئ؟
- د کاغذي شکلونو له جوړېدو څخه څه احساس درته پیدا کیږي؟





**ګران ښوونکی دې:**

د کاغذي شکلونو په ټولو پړاوونو زده کوونکي وپوهوي او د شکلونو جوړولوته یې وهڅوي ترڅو د هغوی ورتیا وده وکړي.




**فعالیت:**

د پورته شکل پړاوونه په ځیر سره وګورئ او هغه په ډېر غور سره د ښوونکي د لارښوونې پربنسټ سرته ورسوئ تر څو هغه شکل چې غواړئ لاس ته راشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ارزونه:**

- دکاغذي شکلونو د جوړیدو په اړه دزده کوونکو استعداد.
- د زده کوونکو کار.

**کورنۍ دنده:** په کور کې له خپلو لویانو څخه دکاغذي شکلونو په جوړولو کې مرسته وغواړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نه ویشتم لوست

## دوه بې طرفه رنګونه

موخه: د دوو بې طرفه رنګونو او دهغو دکارولو سره دزده کوونکو آشنا کول.

پوښتنې:

- په نقاشۍ (انځورګرۍ) کې بې طرفه رنګونه څه دنده لري؟
- بې طرفه رنګونه په طبیعت کې لیدلی شئ؟



**ښاغلي ښوونکي دې!**

له هنري پلوه تور او سپین بې طرفه رنګونه دي زده کوونکو ته دغه دوه بې طرفه رنګونه ور وپیژنې! بې طرفه رنګونه د سیورې او روښنایۍ په ښودلو کې استعمالیږي یعني سیورې په تور رنګ او روښنايي په سپین رنګ انځوریږي درسم هغه برخې چې سیورې ولري هغه په تور رنګ او روښنايي په سپین رنګ کار ول کیږي او تاسې یې په پورته شکل کې په اسانۍ سره لیدلی شئ.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې دوه بې طرفه رنګونه په ډیر غور او ځیر سره دښوونکي دلار ښوونې اوله پورتني شکل سره سم وکاروي.

# دیرشم لوست

# خیالي انځور

**موخه:** هغه شکلونه چې د زده کوونکو په ذهن کې ګرځي د کاغذ په پاڼه د هغو له انځورولو سره آشنا کول.

## پوښتنې:

- څه ډول فکر کوئ او څه شی انځور وئ؟
- دخیالی شکلونوله جوړیدو وروسته څه احساس درته پیدا کیږي؟



## ښاغلي ښوونکی!

زده کوونکي د شکلونو په انځور ولو کې فکر کولو، تکل کولو او نوښت ته وهڅوئ او لازمه لارښوونه ورته وکړئ! دخیالي رسمونو په هکله څه ناڅه معلومات ورکړئ! زیار وباسئ چې په علاقه مندی، سره ذکر شوي کار په عمل کی پلی کړي.

## فعالیت:

مخکې له دې چې زده کوونکي شکلونه انځور کړي. څو شیبې دې دهغو په هکله فکر وکړي او بیا دې دهغو په کار کولو لاس پورې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**